**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۸** **نېټه: ۲۶ / ۱ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغنستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې محترمې عالي شورا په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په گډون غونډه وکړه چې د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق د (۳مه) گڼه تصویب په ترڅ کې د یو شمېر موضوعگانو په هکله پرېکړه وشوه چې د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریک کړل شي. له همدې کبله، یادې موضوعگانې د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریکې شوې چې څوارلسمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

((د نظامي، ښاري، استیناف او تمیزونو محکمو د رئیسانو د دندو د ټاکلو په هکله له عالي محترم مقام څخه د هدایت غوښتونکي یو.))

د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام د څوارلسمې پرېکړې په هکله داسې هدایت وکړ:

((د نظامي، ښاري، استیناف او تمیزونو محکمو محترم رئیسان د قضایي حیثیت درلودونکي دي او پرېکړې د رئیس له تاییدۍ پرته د اعتبار وړ نه بلل کېږي.

که د نقض یا رد په صورت کې د رئیس لاسلیک نه وي، ستونزه نه لري.

هغه محکمې چې له قاضي پرته رئیس هم لري، د خپل حکم په نص کې دې د (حکمنا و قضینا) صیغه ولیکي او هغه محکمې چې له قاضي پرته جلا رئیس نه لري (قضیتُ او حکمتُ) دې ولیکي.

قاضي دې د قضیې جریان واوري او محرر دې ولیکي.

د 'وکتل شو' وروسته دې د قضیې لیکلی جریان مفتي ته ورکړل شي. مفتي په اړونده موضوع کې فتوا پیدا کوي، شماره او تاریخ لیکي او لاسلیک کوي یې. وروسته بیا قاضي د فتوی په استناد باندې حکم کوي او په آرشیف کې یې ساتي. په فیصله کې دې یوازې قاضي او رئیس لاسلیک وکړي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ځینې یا ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

بناءً، د پورته یاد مجلس د څوارلسمې موضوع په هکله د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.